# شهادت
ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان
(٤) صفحه


## دامريكااوروسيي ددفاع وزيرانوپولړتوافقات لاسليك كړل

واشنگتن – دوړي ١٩ نيته :
امريكااوروسيي موافقه كړيده چي دوي به خپلي پوځي همكاري سره زياتي كړي .
دروسيي ددفاع وزيرپاول گراچوف اودامريكاددفاع وزيردغه موافقه په واشنگتن كي لاسليك كړه .
دغه موافقه ددواړوهيوادونودعالي رتبه پوځي مقاماتوترمينځ دتماسونودزياتولو ږغ كوي. ددواړوهيوادونوددفاع وزيرانو دغه رازدمسكوپرهغه پلان باندي بحث وكړچي په روسيه كي دپخواني شوروي اتحاد په زرگونو اتومي توغندي تباه كوي امريكاموافقه كړيده چي دروسيي سره ددغووسلوپه تباه كولو كي مرسته وكړي .

## چين خواهان پرداخت ١٣ مليون غرامت ازامريكاشد

پيكنگ – ١٩ سنبله :
چين خواهان پرداخت حدود ١٣ مليون دالر غرامت ازسوي امريكاشد .
يك مقام شركت كشتي راني چين درپيكنگ گفت : چين به درخواست خودمبني برعذرخواهي علني وپرداخت غرامت ازسوي امريكاپافشاري ميكند ودرصورت عدم پرداخت غرامت، ازراههاي حقوقي ومجامع ذيربط بين المللي اقدام خواهدكرد .
دولت امريكا اخيراً كشتي چيني رابه بهانه حمل مواد كيمياوي ممنوعه راهگيري ودربندردمام عربستان متوقف كرد .
مقام هاي امريكايي پس ازبازرسي كشتي اعلان كردند، اين كشتي هيچ مواد ممنوعه اي را حمل نميكرد .


شمارهٔ مسلسل . (٩٨٤) سال شانزدهم شمارهٔ (٧١ ) يكشنبه ٢١ سنبله ١٣٧٢ هـ ش (٢٦) ربيع الاول ١٤١٤ هـ ق (١٢ ) سپتمبر ١٩٩٣ م
قيمت يك كلدار يا پنجاه افغاني


## افغانستان وروسيه دربارهٔ تبادل اسراتوافق نمودند

كابل – ٢٠ سنبله :
افغانستان وروسيه دربارهٔ تبادل اسراي جنگي شوروي سابق واسراي افغاني به توافق رسيدند .
راديوي ايران به نقل ازگزارش آژانس خبري ايران ازكابل گفت : دوكشور دربيانيه اي كه همزمان دركابل ومسكو منتشرشداين مطلب را عنوان كردند . راديونامبرده افزودبراساس اين توافق كه ميان وزراي امورخارجهٔ دوكشورصورت گرفت روسيه مناسبات خودراباافغانستان درزمينه هاي سياسي ، اقتصادي وفرهنگي گسترش خواهدداد .

## ده فلسطيني درنوارغزه به شهادت رسيدند

بيت المقدس – ١٩ سنبله :
علامه سيدمحمدحسين فضل الله درمراسم نمازجمعه بيروت ضمن تشريح طرح خودگرداني غزه اريحابه يك كمربند امنيتي براي اسرائيل گفت : اين توافق نه تنها حقوق سياسي، امنيتي واقتصادي فلسطينيان رادرمحدوده حكومت به اصطلاح خودمختارغزه اريحاتأمين نخواهد كرد، بلكه مسئله بيت المقدس رانيز به فراموشي مي سپارد.
همچنان درتظاهرات روزجمعه مسلمانان فلسطيني درمخالفت باشناسايي رژيم صهيونست به وسيله "ساف" ده مسلمان فلسطيني درنوارغزه كشته شدند. ازبيروت نيزگزارش شده كه دراعتراض به رسميت شناخته شدن رژيم اسرائيل ازسوي "ساف" فلسطينيان مقيم لبنان نيزهمراه باساكنان سرزمين هاي
ص٤

## عرفات براي ورودبه غزه بايد ازدرياي خون بگذرد

بيت المقدس – ١٩ سنبله :
ايمه جمعه وخطباي مساجد فلسطيني درخطبه هاي نمازجمعه، عرفات رابخاطرشناسايي رسمي اسرائيل، به شدت مورد حمله قراردادند .
شيخ محمدحسين خطيب مسجد الاقصي گفت : عرفات باقبول طرح صلح غزه اريحاواعتراف به موجوديت رژيم اسرائيل،مرتكب خيانت بزرگي به امت اسلامي شده است. شيخ صلاح الدين صبري امام جمعه مسجدعمربن الخطاب دربيت اللحم نيزدرخطبه هاي نمازجمعه گفت: سرزمين فلسطين حق أمت اسلامي است وياسرعرفات حق ندارد آنرابه يهودان بفروشد. شيخ خالدامام جمعه مسجد ابوعبيده نيزبه تشريح پيامدهاي وخيم طرح غزه اريحا پرداخت وگفت : باامضاي طرح خاينانه غزه اريحا رژيم اسرائيل تولد تازه اي يافته است . امام جمعه مسجد دره جنين نيزدرخطبه هاي نمازجمعه گفت : ملت مسلمان فلسطين اجازه نخواهد دادطرح خودمختاري غزه اريحاعملي شودوعرفات براي ورودبه غزه بايد ازدرياي خون عبوركند .
شيخ جمال العطبه امام جمعه مسجد الروضه نيزعرفات
ص٤

## كنفرانس جمعيت وتنظيم خانواده درتهران برگزارشد

تهران – ٢٠ سنبله :
نخستين كنفرانس منطقوي جمعيت وتنظيم خانواده باشركت متخصصان جمهوري اسلامي ايران و١٥ كشورديگرصبح روز شنبه درتهران آغازبكاركرد .
درجلسهٔ افتتاحيه اين كنفرانس حسن حبيبي معاون رئيس جمهورايران صحبت كردوازرشدبي رويه جمعيت به عنوان عامل بازدارنده درتوسعه اجتماعي و اقتصادي يادآورشد. دوكتورولايتي وزيرخارجه ايران ودوكتورنسيم صديق مديرعمومي صندوق جمعيت سازمان ملل نيزدرين زمينه سخنراني نمودند .
براساس گزارش بالابردن آگاهي هاي منطقوي ،تجزيه وتحليل تجارت موفق وناموفق كشورها،بررسي استراتيژي هاي خاص بمنظوررفع مشكلات فرهنگي ومذهبي ازجمله مسايلي است كه درنخستين اجلاس منطقوي جمعيت موردبحث وبررسي قرارميگيرد اين كنفرانس با٢٤ برج سنبله ادامه خواهد داشت .

## څه دپاسه ١٨٠ كسه تبعيدشوي فلسطينيان دلبنان څخه اسرائيلوته بيرته ستنيږي

بيت المقدس – دوړي ١٩ نيته :
دهغوڅلوروسوفلسطينيانوله ډلي څخه چي تيركال داسرائيلو له خوالبنان ته شړل شوي وو تقريباً نيمايي كسان بيرته اسرائيلوته ستنيږي اوپه تبعيدكي ئه مياشتي ژوندته خاتمه وركوي .
څه باندي ١٨٠ كسه په جنوبي لبنان كي له خپلو خيموڅخه راووتل او دوه كيلومتره لري داسرائيلو بوي پوځي پوستي ته ورغلل دوي وروسته په هغوبسونوكي چي اسرائيلوته روان وو سپاره شول اوهلته به اسرائيلي مقامات فيصله كوي چي څوك بندي خاني ته واستوي او چاته اجازه وركړي چي خپلوكورونوته ستانه شي .
ددغواخراج شووكسانوباقي پاته برخه به دروان كال ترپايه پوري اسرائيلوته ستانه شي .

## نيروهاي سازمان ملل ١٥٠ سومالياييي راكشتند

موگاديشو – ١٩ سنبله :
دردرگيري روزگذشته جنوب موگاديشوكه بين صدهاتن سومالياييي ونيروهاي سازمان ملل رخداد (١٥٠) سومالياييي كشته وسه صدتن ديگركه اكثراً زن وكودك بودند زخمي شده اند راديوي ايران بنقل ازخبرگزاري فرانسه خبردادمسئول يك شفاخانه درموگاديشو اعلان كرده است ٦٢ مجروح كه ١٨ تن ازآنهاكودك و٣٥ نفرزن بودند ،تنهابه اين شفاخانه انتقال يافته اند .
خبرديگري حاكيست ، نيروهاي پاكستاني سازمان ملل متحد درسوماليا اعلان كرده اند،دوسرباز امريكايي صبح روزجمعه به اثراصابت راكت به موترآنهادرموگاديشو زخمي شدند .
طبق يك خبرديگرروزجمعه ميان هواداران جنرال محمدفره عيديدويك گروه رقيب وي درگيري شديدي رويداده است .
همچنان پنج سومالياييي ديگركه براي شبكهٔ تلويزيون C.N.N امريكاكارميكردندبضرب گلوله، كشته شدند .

## دامريكا دمشرانوجرگي دبهرنيوروابطو جرگه گي ديوقانون تعديل منظوركړي

واشنگټن – دوړي ١٩ نيته :
دامريكا دمشرانودجرگي دبهرنيوروابطو جرگي دداسي قانون تعديل منظوركړي دي چي پراندونيزياباندي ږغ كوي چي مخكي له هغه چي دامريكانه وسلي ترلاسه كړي بايد چي دبشردحقوقو وضع اصلاح كړي .
دغي جرگه گي دڅهارشنبي په ورځ دخارجي مرستوديوي لايحي سره دغه تعديل يوځاي كړ .
دغه تعديل دجمهوررئيس كلنټن څخه غواړي مخكي له هغه چي اندونيزيا ته وسلي وركول منظوركړي دكانگرس سره دي په دغه باره كي مشوره وكړي . دفرانسي خبري آژانس داندونيزيادبهرنيوچارو دوزير علي العطارله خولي وايي چي ددوي هيواددامريكاسره داقتصادي اومالي همكاريوپه برخه كي سياسي شرايط نه مني .

## شبكهٔ تلويزيوني سعودي نخستين باربا يك مقام اسرائيلي گفتگوكرد

رياض – ١٩ سنبله :
شبكه تلويزيوني M.B.C عربستان سعودي روزجمعه براي اولين باربايك مقام رژيم اسرائيل گفتگوكرد .
راديوي ايران به نقل از خبرگزاري فرانسه خبرداد: شيمون پريزوزيرامورخارجه اسرائيل درين مصاحبه براي عادي شدن روابط اسرائيل وكشورهاي عربي اظهاراميدواري كرده است .
شبكه تلويزيوني M.B.C عربستان سعودي درلندن مستقراست.

## معاون عرفات خواستاربركناري رهبرساف شد

تونس – ١٩ سنبله :
سه تن ازرهبران فلسطيني، روزجمعه به نشانهٔ اعتراض به شناسايي رژيم اسرائيل ازسوي "ساف" رسماً ازكميته اجرايي سازمان آزادي بخش فلسطين استعفا كردند.
اين سه تن ضمن انتقادازاعضاي كميته اجرايي كه به موافقت نامه شناسايي متقابل "ساف" ورژيم اسرائيل راي موافق دادند باغيرقانوني ،اعلان كردن اين شناسايي خواستاربركناري رهبرساف شدند .
فاروق قدومي رئيس دايره سياسي ساف ومعاون عرفات نيزطي بيانيه اي باانتقاد ازامتيازهاي ساف براي شناسايي اسرائيل گفت : هيچ رهبري حق ندارد ، مبارزه عادلانه ملت خودبراي آزادساختن سرزمين هاي اشغالي راردكند.وي امضاي اين توافقنامه را بمنزله نقض حقوق مردم فلسطين توقيف كرد.

## دافغانستان دبهرنيوچارو وزيرلندن ته سفروكر

بي بي سي – دوړي ٢٠ مه :
دافغانستان دبهرنيوچارو وزيرهدايت امين ارسلا په يوه رسمي اوديپلوماتيكي سفرله كابل څخه لندن ته تللي ، ويل كيږي چي هغه به له لندن څخه وروسته واشنگټن اونيويارك ته هم سفروكړي .
محترم هدايت امين ارسلا غواړي چي دافغانستان دبياوداتولو لپاره مرستي ترلاسه كړي مگربهرني خبريالانوايي چي مرستي وركونكي سازمانونه دافغانستان دامنيتي وضعي له امله زړه نازړه دي .
ويل كيږي چي دي به دملگروملتونوپه غونډه كي چي داكتوبرپه ٧ مه دافغانستان په هكله كيږي وينا وكړي .
ديويل خبرله مخي ويل كيږي چي دافغانستان داسلامي دولت جمهوررئيس استادبرهان الدين رباني به هم دملگروملتونو په غونډه كي برخه واخلي خودهغه دتلونيته تراوسه نده اعلان شوي .

## ايتاليا ازعملكردنيروهاي سازمان ملل درسوماليا انتقادكرد

ايتاليا بارديگرازعملكردونقش سازمان ملل متحددرسوماليا انتقادكرد .
خبرگزاري فرانسه خبرداده است ، وزيردفاع ايتالياتصريح كرده است ، تيراندازي بسوي مردم سوماليابا هدف ماموريت نيروهاي اعزامي به اين كشور كاملاً منافات دارد وبراي برقراري صلح درسوماليا نبايد موگاديشورا ويران كرد.
طبق خبر، هليكوپترهاي نظامي امريكاروزپنجشنبه مردم را درموگاديشو پايتخت سوماليا هدف قراردادند وتعداد زيادي اززنان وكودكان راقتل عام كردند.وزيردفاع ايتالياگفت. مسايل سوماليابااسلحه وزورحل نخواهد شدوتنهاراه ، مذاكره باتمام رهبران گروهاي سوماليايي ازجمله جنرال عيديداست

## تركيي اوروسيي نوي خبري اترې پيل كړي دي

دتركيي صدراعظمي اتانسوچيلروايي روسيي اوتركيي دخپلو پيريو،پيريو روابطوپه سلسله كي نوي خبري اترې پيل كړي دي .
ميرمن چيلرپه مسكوكي دروسيي دجمهوررئيس بوريس يلتسن سره ترخبروكولو وروسته خبريالانوته وويل چي دا دخپل دغه دوي ورځني سفرڅخه راضي ده .
رپوټونه وايي چي ميرمن چيلرهمدغه رازيلتسن ته پيشنهاد كړي دي چي دروسيي اوتركيي يوه گډه سوله ساتونكي قوه دي مينځ ته راوړل شي چي دناگورنوقره باغ په جگړه كي دهراز تينگيدونكي اوريند خاتمه وركړي .

## سازمان ملل وبرخي ازكشورهاازتوافق صلح ميان اسرائيل وساف حمايت كردند

ژنيو – ١٩ سنبله :
سرمنشي سازمان ملل متحد ازتصميم اسرائيل و"ساف" براي برسميت شناختن يكديگراستقبال كرد .
بطروس غالي ميگويد اين يك تحول تاريخي است . وي براي پيگيري طرحهاي پيشنهادي درغزه واريحايك گروه عاليرتبهٔ سازمان ملل راماموركرده است .
كشورهاي امريكا ،انگلستان ،چين ،آلمان، ناروي، روسيه مصر وبرخي كشورهاي ديگرازشناسايي متقابل ساف واسرائيل استقبال نموده اند.
روزنامهٔ نيويورك تايمز درشمارهٔ روزجمعه درين مورد نوشت امريكاوكشورهاي ديگر كه ازين توافق تائيد مينمايد بايد بادادن كمكهاي مالي ازين توافق استقبال كنند . اين روزنامه افزود اگروضعيت مالي فلسطيني هابهبودنيابداحتمال حمايت آنهاازتوافق هاي انجام شده درموردسرزمين هاي اشغالي افزايش مي يابد . روزنامهٔ مذكورافزوده است اماسازش ساف بااسرائيل مطمئناً موردحملهٔ افرادتوافق ناپذيرقرارميگيرد وبامخالفت هايي درسرزمين هاي اشغالي روبروخواهدشد.

## دننگرهار پوهنتون خبرتيا

دننگرهار پوهنتون خپلو مربوطه پوهنځيوته د٧٢ – ١٣٧٣ تعليمي كالونو لپاره نوي محصلان مني په دي توگه ددولسموټولگيو يادهغه دمعادل ټولگيو ټولو فارغ التحصيلانو ته خبرووركوي چي دنوم دثبتولو په غرض دننگرهار پوهنتون دښوونې اوروزني لوي مديريت ته دسنبلي دمياشتي په شلمه نيټه مراجعه وكړي ،اود كانكوردازموينې داخستلونيټه به بياوروسته اعلانيږي .

## دنه بخښوونكي تاريخي گناه ارتكاب

نن سبااسلامي نړۍ له يوه حيرانوونكي ازميښت سره لاس وگريوان ښكاري . دامريكاپه مشرۍ لويديځ هرچيرته داخپل منصبي فرض گڼلي، چي بايدمسلمانان كوم انسجام اوانتظام ته پرينښودل شي، له همدي كبله داسلامي نړۍ ښمنې ،تجارت ،تكنالوجيكي پرمختگ اوحتي نسلي اوتوكميزه وده هم دنړيوال كفرد سختي څارني لاندي ده، په عمومي ډول داسلامي هيوادونو ترمنځ تشنج پيداكول اوهغه بياپه وسله وال جنگ بدلول دامريكاورځنۍ دنده ده ،لكه دايران اوخليج دهيوادونو ترمنځ داپوموسي اونوروټاپوگانوپره راولا رول اوهمدي ته ورته نوري ستونزي. خوپه خصوصي ډول دنړيوال كفرگرده پاملرنه بياداسلامي خوځښتونوخواته ده ، چي بايدپه نطفه كي بي خنثي كړي، اوداصل بيادنوروسايلو پرتناسب دلويديځ لپاره ډيرجدي اوويروونكي ښكاري . ليري به نه ځو، خپل هيوادافغانستان ته به وگورو، چي پكي داسلامي تحريك اودهغه دمجاهدقيادت پرضدڅومره هلي ځلي رواني دي، اودابياپه كومه بيه اوسرپرستي يي دڅاپرغاره ده.زمونږ په عقيده پدي باب هيڅ ابهام ندي پاتي اوهرڅه ښكاره دي. خو دقدرت لزوم ديدبيابل ډول دي، امريكاكه هرڅومره دخپل فرعونيت داستحكام لپاره پيش بينه ده، اودنړۍ په گوټ گوټ كي دداسي امريكايي پوځ دميشته كولو تكل لري، چي دامريكادڅواكمنۍ ښكارندويي وكړي، اوداهرڅه داسلام اومسلمانانودټكولو لپاره سرته رسي، خودهمدغي امريكاپه زړه كي له يوملبون نه زيات خلك داسلام په مقدس دين مشرف كيږي، چي له امريكااوگردشيطانيت سره يي هيڅ ځواب نشته . خو زمونږ په خيال اوحدس لكه چي قدرت ته منظوره ده اووه، چي ختيځ ښكيلاك يي پرسپين ميدان ديوه تش لاسي مسلمان قوم په وړاندي رانسكوركړ، خولويديځ ښكيلاك به انشاء الله برعكس پرعقيدوي دگرسلامي كيږي، اوهمدغي انديښني لويديځ څيرونكي په حيرانۍ كي اچولي دي، خوتراوسه چي اسلام اومسلمانانوته څومره ضرراوتاوان،داخلي منافقانواومرتجعينورسولي، هومره به ورته نيغ په نيغه دښمنانوروس اوامريكاته وي رسولي، دبيلگي په ډول دافغان مجاهدينودروستني بشيربرياليتوب پروخت له

## سخن روز

# تاجکستان زخم ناسوردیگر برگرده ي روسیه

محمدسرور«هما»

اندریکوزیروف وزیرخارجه ي روسیه جهت بازدیدرسمي وملاقات بامقامات جمهوري اسلامي افغانستان بتاریخ (۱۷) سنبله واردکابل گردیدوبامقامات افغاني منجمله صدراعظم ووزیرخارجه ملاقات وتبادل افکارنمود.واضح است که سفرروسهابه افغانستان بیش ازهمه روي دوهدف دورمیزد . موضوع اسراي جنگي ارتش شوروي اسبق وقضیه تاجکستان که چون زخم خونین درپهلوي روسیه قراردارد، چنانچه درمذاکرات باصدراعظم کشورمان این مسأله مطرح بحث قرارگرفته وبه نتایج مثبت ومثمري نایل آمد .

طبق ادعاي روسهاکه به تعدادبیش ازسه صدتن ازعساکرروسیه درقیدمجاهدین افغانستان میباشدکه بیشترین آنهانزدحزب اسلامي افغانستان قراردارد وتاهنوزبه استثناي جمعیت اسلامي افغانستان هیچ یك ازتنظیم هاي جهادي دیگربه شمول حزب اسلامي اسراي روسي راآزادنکرده اند وتعداد کسانیراکه جمعیت اسلامي آزادنموده است خیلي هاقلیل بوده که بمقایسه ارقام ادعایي روس هابرابربه هیچ است .

چون دولت روس خودراوارث شوروي اسبق میداندوبه تمام قرارات دولت شوروي التزام داردازناحیه اسراسخت تحت فشاراست، ازیکطرف ملت روسیه وجمهوریت هاي آزادشده ازروسیه طالب افرادي هستندکه دربندمجاهدین افغانستان اندوازطرف دیگراسراي روسي درافغانستان حربه اي سیاسي اي است که گهگاهي علیه روسهابکاربرده مي شود. که این دوفشاردولت روسیه راتحت شکنجه آورده تادرزمینه آزادي اسرابکوشد وبهرنحوي که ممکن باشد این دوفشاررا ازخوردنماید وازمجموع گرفتاري هاي که برایش پیداست یکي وارفع بدارد .

پس دراین راستاوزیرخارجه دولت روسیه عزم کابل نمودودرملاقات بابرادرحکمتیارصدراعظم کشورمان موفق گردیدتانظرمساعدحکومت افغانستان رادرزمینه آزادي اسراجلب نمایدوخود وعده دادکه دولت روسیه حاضراست درضمن ادامه دوستي، حفظ روابط وهمکاري هاي اقتصادي دربازسازي افغانستان جنگزده وویرانه عده اي ازکارشناسان نظامي راجهت پاکسازي ماینهاي بجاگذاشته ازارتش شوروي اسبق، دراختیاردولت اسلامي افغانستان قراردهد تااین کارشناسان بتوانند باهمکاري مجاهدین کشتزارها ،مراتع وکوه هاراازوجود ماین هاپاك سازند .

نکته ي دیگري که درملاقات مورد اعتناقرارگرفت موضوع تاجکستان بود، هردوطرف موافقه نمودند که قضیه تاجکستان ،یك مسئله داخلي تاجیکهابوده وبه هیچ کشورخارجي مجازنیست که درآن مداخله ورزدوازکوزیروف باجدیت خواسته شدکه دولت متبوع خودرامتقاعدنمایدتادرقضیه تاجکستان نقش میانجي راایفابدارد وازمداخله بحیث یك طرف موضوع خودداري ورزدوازدولت تاجکستان بخواهدکه باجنبش مقاومت تاجکستان به تفاهم نشسته وحق مشروع آنهاراناادیده نگیرد .

کوزیروف پس از تکمیل سفرخویش واردتاجکستان گردیدتابامقامات دولتي تاجکستان ملاقات نموده وازنقطه نظرهاي دولت اسلامي افغانستان آنهاراواقف سازد .

خاطرنشان مي شودکه اصرارروسیه به برسرکارماندن کمونستهادرتاجکستان خطرجدي اي رامتوجه منافع روسیه درمنطقه خواهدکرد؛زیرا هیچ دولت مستقل همسایه ي تاجکستان حاضرنیست حضورنظامي روسیه درمنطقه رابپذیردوازجانب دیگرجنبش مقاومت تاجکستان درحال قوام گرفتن بوده وازوجودروسهادرخاك خود نفرت دارد و باداشتن تجربه اي هفتادودوساله دیگرنمیخواهنددردامن روسهاباشند .

دراین هم شکي نیست که جنبش تاجیکهاازنوع حرکتي است جوشنده ازملت که علیه تجاوزخارجي ویاحکومات دیکتاتوردرجهان تجربه شده ، شاید هیچ چیزي مانع آن شده نتواند وهرگزخاموش نخواهدگردیدمگراینکه آرمان جنبش که آزادي، استقلال ابرازهویت ملي وتشکیل حکومت اسلامي که ضامن حفظ حیات همه اتباع آنکشورباشد ،برآورده نگردد .

بناءً برروسهاست که ازتجاوزشوروي اسبق به افغانستان وتحمیل حکومت وحشت کمونستهابرافغانهادرس گیرند وازاصرارخویش براي بقاي رژیم کمونستي تاجکستان صرف نظرنمایند وبه بیرون نمودن عساکرخودازتاجکستان عجله نمایند تامباداتاجکستان به افغانستان دیگري مبدل گردد ورهبران روسیه بافضیحت وشرمساري طالب معذرت شوند .

طوریکه مشاهده مي شودجنبش مقاومت تاجکستان باگذشت هرروزي به پیروزي قابل ملاحظه ي نایل آمده درمقابل فرسودگي سراپرده ي حیات دولت تاجکستان رافراگرفته است ، چنانچه عساکرروسي دردفاع ازمنافع دولت خودداري نموده واکثراً پابه فرارگذاشته بعضي ها باسلاح هاي خودتسلیم مخالفین دولت مي شوند وبرخي سلاح ومهماتي رادربدل پول نقدتحویل مخالفین مي نمایندوحتي درداخل ارتش روسیه ودولت تخریب مینمایند .

قسمیکه دیده شددرجنبش اولین سالگرداستقلال تاجکستان ازهشت انبارسلاح ومهمات شش انبارآتش گرفت وباعث خسارات مالي وجاني شد ،آنچه ذکرش رفت مشتي ازخرواربودکه چرخ

ص(۳)

# دجهادي مشرانوخپلمنځي مشکلات اودهيوادحالات

لټون

له کومي ورځي نه چي دنجيب حکومت نسکورشوي اومجاهدين واکوال شوي له هماغه ورځي جهادي ځواکونه په خپلمنځي کشمکش اخته دي اوتردااننه پوري تقريباً يوکال اوڅومياشتي تيري شوي په هيوادکي درامنځته شوي وضعي پرخلاف کوم محسوس بدلون رامنځته شوي نه دي، په دي خوهرڅوك پوهيږي چي دجهادي ځواکونوخپلمنځي تريگني دمقدس جهادپه اوږدوکي هم موجودي وي، خوکوم څيزچي دجهادي ځواکونوپري اختلاف اومخالفت نه و، هغه دکمونيزم، بهرني مداخلي اولاسپوڅي حکومت پرخلاف مقدس جهادو، اودڅوارلسوکالوپه اوږدوکي مجاهدينوله هردول اختلافاتولرلوسره سره دکمونستي دښمن په مقابل کي دجهادسنگرونه خالي پري نه ښودل،اوله هرډول تنظيمي رقابتونوسره سره دسري امپراطوري پرخلاف زموږدمومن اولس جهادشدت مونده اوبالاخره روسان مجبورشول چي خپل لاسپوڅي بوازي پريږدي اوپخپله له افغانستان نه پښي سپکي کړي .

هوا زموږ دمؤمن اولس دمقدس جهادله برکته کمونيزم ماتي وخوړه، روسي امپراطوري دړي وړي شوه، دنيمايي نړي مظلوم اولسونه دکمونيزم له وحشي پنجونه وژغورل شول اوان تردي چي لويديځي نړي اودهغوي په مشري امريکادآرام ساه واخيسته اولاچي پرگرده نړي يي دباداري خوبونه عملي کول پيل کړي دي .

داهرڅه وشول اودنړيوال وضعيت په تغييرموندلو اوبدلولوکي دافغانانوله سترول ښايي يوواقعيت ليدونکي انسان هم سترگي پټي نه کړي، اوگرده نړي دامني چي مؤمن افغانان لکه دپخواپه څيرچي بت شکن اواستعمارشکن وو، داخل هم کمونيزم ماتوونکي ثابت شول. داهغه وياړني اوافتخارات دي چي زموږ دمؤمن اولس دوياړشمله يي لاپسي جگه کړي ده ،خوهغه کمزوري چي زموږمجاهداولس اوپه تيره څيني جهادي قيادتونه پري اخته دي هغه هم بايد له پامه ونه غورځول شي اونه بايد مومن افغانان پرخپلو گټليوويارنودومره غاوره شي چي دخپل لستوني ماران دښمنان له ياده اوباسي .

دکابل لاسپوڅي کمونستي رژيم چي کله دخپلوبادارانوله خوا يکي بوازي دمجاهدينورحم وکرم ته پريښودل شو، له هماغه ورځي دغومنافق صفته کمونستانوپټيلي وه چي دخپل حفظ ماتقدم په خاطرله مجاهدينوسره روابط ټينگ کړي اوددغوارتباطاتو په نتيجه کي په گانده کي دخپلوڅانونوله پاره دخلاصون لاري پيداکړي، که څه هم په دي دوران کي دجهادي قيادتونوله خوادغوکمونيستي مزدورانوته دوسلي پرايښودلوپياڅلي عفوه اعلان شوه، خوهغوي دوسلي ايښودلوپه نتيجه کي له دغه ډول عمومي عفوي ډيره ستره گټه واخيسته اوبالاخره پردي وتوانيدل چي دڅيني جهادي تنظيمونوترڅنگ دمنظمونظامي ځواکونوپه حيث پاته شي، په څيني ولاياتوکي دجهادي قوماندانوترڅنگ په جهادي شوراگانوکي دگډون حق ترلاسه کړي ، دجهادي تنظيمونو په ملاترکابل دامنيت چاري په خپله ولکه کي واخلي اوان تردي چي په شمالي ولاياتوکي په مستقيم ډول څيني ولايات ترخپل کنترول لاندي راولي، داهغه ترخه واقعيتونه دي چي سري يي په غوروڅيږي

اودراتلونکي په باب يي غوروکړي نوسترگي بريښوي اوخداي (ج)مه کړه دزياتوتلوسوپه شته والي سري ته دافغانستان اسلامي گانده تياره سکاره شي، داخوبي لاڅه چي دجهادي تنظيمونوله خواورته دجذب اوملگرتيادبلني پروخت بوترپله دزياتوامتيازاتو وعدي ورکول کيږي ، په رسمي ډول يي هرکلي کيږي ، رسمي ميلمستياوي ورته ترتيبيږي اوحتي دصدارت په هغوماڼيوکي دهستوگني شرايط ورته برابريږي چي تقريباً يونيم کال دمخه همدغوکمونيستوڅيروته زموږ دمظلوم ملت ديونيم ميليون شهيدانودمخکينوقاتلانوله لوري دمسلمان وژني اوامرصادريدل اوپروگرامونه ورکول کيدل، نن هماغه زموږدمظلوم ملت قاتلان په هماغو صدارتي ماڼيوکي ديونيم ميليون شهيدانودوارثانو رسمي ميلمانه کيږي اوپه ميلمستيايي زموږدمظلوم ملت له وينوووجوروشويولکونه لاڅه چي ميليونونه افغاني مصرفيږي ، اوبيا دهمدوي په موجوديت کي زموږدغه دقدرت ( ..... ) دخپلوهمسنگرومجاهدينو پرخلاف دسيسي اوتوطئي جوړوي اودغوقاتلانوته يي داجراء په بدل کي په لازياتوامتيازاتوقائليږي ، زه خووايم چي که په دي ډول هره ورځ دغوکمونستانوته دامتيازاتومسابقه همداسي جريان ولري اوپه اسلامي افغانستان کي داسلامي حکومت اوداسلامي مقدس جهادوارثانوته دخدمت پرځاي دکمونيستانو په وراندي ديوبل پرخلاف توطئي جوړيږي نوبيا دخداي (ج) بنه پوهيږي چي زموږدڅوارلس کلنو قربانيوثمره به څه وي ؟

په کارده چي زموږمحترم جهادي قيادت دحالاتوباريکي درك کړي اوددي پرځاي چي کله دحيدرخان په کلاکي غونډي وکړي اونوي نوي مسايل تربحث لاندي ونيسي دهغي له پاره هيتونه وټاکي کميسونو نه تشکيل شي ، له څومياشتي کاراوفعاليت يانه فعاليت له امله بيا خبره سره شي، هغه کميسيون پاتي شي بيابل وټاکل شي، نوي موضوعات رامنځته شي اودهغي په باب دخبرو اتروله پاره دشرايطوپه برابرولو کي پريمانه وخت ولگيږي اودغسي گډوډي پرخپل حال پاته وي اووختونه تيريږي ، پوهان وايي چي وخت دهيچاانتظارنه کوي، همدغسي لازمه ده چي زموږجهادي قيادت دوخت دنزاکت په نظرکي نيولو سره لومړي خپلمنځي کشمکشونه دخداي (ج) ،اسلام، هيواداومؤمنوهيوادوالوپه خاطر پريږدي اودگران هيواداومؤمنو هيوادوالو دهيلو دتحقق په خاطرترهرڅه رومبي دهغوکمونستو ځواکونو په باب متفقه فيصله وکړي چي لاسونه يي زموږدمظلوم اومسلمان ملت پروينوسره دي اوبياپه هيوادکي داسلامي نظام دټينگښت په خاطربه ځوانمردانه ډول يوبل ته دعفوي اوتيريدني لارغوره کړي . په دي ډول کيداي شي دمنافقت اودسيسه سازي دعنصردختميدوپه نتيجه کي زموږگران هيواد دامن قانونيت اوسوکالي په لورروان شي .

# داندري کوزيروف دوه مخيزه سياست

شمس الحق«شمس»

دتيري چهارشنبي په ورځ دروسيي دبهرنيوچارو وزيراندري کوزيروف په يوه رسمي سفرافغانستان ته راغلي اوپه کابل کي يي دعظمي صدارت په موقت دفترکي دافغانستان داسلامي دولت له صدراعظم وروروحکمتيارسره ليدنه کتنه وکړه . دخبري سرچينوپه حواله پدي کتنه کي دواړوخواوپه هرارخيزوخبرواترو باندي بحث اومذاکري وکړي اودبولرتوافقاتوپه لاسليك کولو سره دغه ليدنه پاي ته ورسيده .

خپاره شوي رپوټونه وايي چي پدي کتنه کي وروورحکمتيارداندري کوزيروف دهغوجنگي بنديانودخوشي کيدودغوښتني په باب چي پرافغانستان باندي دروسي متجاوز وپوځيانو دبرغل اوتيري پروخت دميړنيومجاهدوسربازانوپه لاس ژوندي نيول شوي ؤ، دبيرته خوشي کيدووعده ورکړي، خودخوشي کيدوټاکلي نيټه يي معلومه شوي نده . دهيوادصدراعظم ورور حکمتياردبنديانودخوشي کيدوپه اروند په تفصيل سره دکوزيروف سره خبري اتري کړي اوزياته کړي يي ده چي دبنديانومسئله خوبه ددواړوخواوترمنځ دبولږ تفاهماتو په نتيجه کي حل وفصل شوي واي خويدي وروستيو وختونوکي دافغانستان اوتاجکستان په سرحدي پولوکي دمتجاوز وروسي پوځونودبيا ځاي پرځاي کيدوناشايسته عمل ددي باعث وگرځيدچي دبنديانودخوشي کيدوپرمسئله باندي مستقيماً اثروغورځوي. روسانوپدغه عمل سره يوځلي بياپه تيرواشتباهاتوپه ډاگه سره دندامت ښکاره کولو مسئله ناديده وانگيرله اوپدي نامه چي دمشترك المنافع هيوادونو دگډي همکاري له مخي اوياپه تاجکستان کي دروسي اتباعوساتنه شوي وي نوبي يوزيات شميرپوځونه تاجکستان ته وليږل خوپه حقيقت کي دادمشترك المنافع هيوادونوقراردادونواودرروسي اتباعو دساتني درناوي کول نه، بلکه دروسانوداعمل دتولي کفري نړي په سلامشوره يوپلانيزه دستوريلل کيږي چي په تاجکستان کي دپياوړي اسلامي غورځنگ دټکولو، په افغانستان کي دمجاهدينودغوښتني سره سم داسلامي حکومت دجوړولود پروسي شنډولواودافغانستان اوتاجکستان په سرحدي پولوباندي دگډوډيوپيداکولولپاره ځاي پرځاي شوي دي . کنه دتاجکستان خپلمنځي مسئله ددي وړنه وه چي دروسانواويابل چا په مداخلي سره دحل وفصل شي ،بلکي هغه ددوي خپلمنځي مسئله وه چي ديرژربه يې دخلکودغوښتني سره سم دانتخاباتوله لاري په زړه پوري حل موندلي واي. که روسان واقعاً دمشترك المنافع هيوادونومقرراتواولايحوته درناوي کوي نوپري ديدي چي دتاجکستان حکومت چي اکثريت يي مسلمانان تشکيلوي اووروسته له زياتي زماني اسارت تيرولو څخه يي نن خپله آزادي گټلي، اوس هم دخپلي خوښي داکثريت حکومت جوړکړي. ولي اصلي خبره داده چي روسان اودهغه کفري انديوالان په تاجکستان کي داسلامي غورځنگ دښکاره مبارزي اوپرمختگ څخه سخته ويره پيداکړي اوپه ورو وروسره دآزادپريښودوپه صورت کي ددغه پياوړي اسلامي غورځنگ ترتاثيراوسلطي لاندي دمرکزي آسيادآزادوهيوادونواوبالاخره دافغان جهادپه نتيجه کي دتوته توته روسيي،راتلل له حقيقت اوواقعيت څخه ديرليري کارنه بريښي .

که څه هم دروسيي دبهرنيوچارو دوزيرکوزيروف سفرکابل ته اوياددهيوادله صدراعظم سره ليدنه کتنه دنړي خبري سرچينوظاهراً داسي وښودله چي دکوزيروف دسفراصلي هدف دافغانستان اوتاجکستان په سرحدي پولوباندي داړودوړدمسالمت آميزه لاري دحل کيدو لپاره شوي دي، کوزيروف غواړي چي دا کرکيجنه مسئله په آرامه توگه دمذاکري له لاري حل کړي. خوحقيقت بل شان دي، افغانستان له خپل گاوندي هيوادتاجکستان سره هيڅ سرحدي جنجال نلري،بواځي دهغومسلمانانوتاجکومهاجرينو چي په تاجکستان کي دکمونست حکومت دظلم اووحشت له لاسه پدي سرحدي لاره افغانستان ته داخل شوي او دافغان مجاهد ولس له خواهغوي ته دزړه له کومي هرکلي ويل شوي اوداسلامي ارشاداتواوزموږدسترمجاهد پيشواحضرت محمد(ص) دتگلاري سره سم يي هغوي ته ځاي ورکړي اومنلي يي دي،لدي پرته بل هيڅ مسئله نشته چي هغه په سرحدي پوله باندي دکرکيچ پيداکيدوباعث وگرځي . اصلاً خوداختلاف اومنازعي پيداکيدومسئله ددواړوهيوادونوترمنځ په سرحدي پوله کي دمتجاوزوروسانودگڼ شمير پوځيانو ځاي پرځاي کيدوراولاړه کړي ده چي دسيمي دنيکواړيکودخرابيدو اودپوه ځانگړي شوم هدف دترسره کيدو په خاطراچول شوي دي که همدانن روسان خپل پوځونه وباسي دتاجکستان مسئله به طبيعي صورت حل مومي .

دتعجب ورخبره خوداده چي کوزيروف اوياد رځ اواختلاف اچوونکي غيرمسئولي خبري سرچيني په کوم دليل ددي خبري يادونه کوي چي ددي دسفراصلي هدف دافغانستان اوتاجکستان دسرحدي کرکيچ دختميدولپاره دي.داهرچاته پته ده چي دافغانستان اوتاجکستان ترمنځ هيڅ ډول سرحدي کشاله نشته بلکي متجاوزروسان غواړي چي په خپل لاس ددغودواړوهيوادونوترمنځ دگاونديتوب مناسبات خراب کړي. که څه هم په کابل کي کوزيروف دهيوادله محترم صدراعظم وروورحکمتيارسره ددي وعده هم کړي ده چي روسان به له دي وروسته دافغانستان له نوي حکومت سره هرډول همکاري ته ملاوتړي اوپدي وعده به عمل هم وکړي خوداخبره بياهم دکوزيروف دهغوخبرواوويناله مخي منافقانه اودوه مخي ثابته شوه چي دافغانستان دسفروروسته يي دتاجکستان دهيواد دليډرپروخت ،خلکوته وکړه، کوزيروف ويلي چي دروسيي دولت هڅه کوي چي دهغوناآراميومخه ونيسي چي پدي وروستيووختونوکي په تاجکستان کي پيداشوي دي داځکه چي ددي امکان شته چي دغه ناآرامي نورو آسيايي هيوادونوته هم سرايت وکړي، هغه زياته کړي چي ددي ناآراميو دپيداکيدومخنيوي به دتاجکستان په سرحدکي دنوروروسي پوځونوپه زياتيدواوتقويه کيدو سره وشي، دکوزيروف دمنافقانه سياست څخه داپه ډاگه شوه چي اصلاً روسان نه غواړي دتاجکستان مسئله دي دتاجکستان خپلمنځي مسئله وبلل شي اوپه خپله دي دتاجکستان ولس ته اختياورکړشي چي پيښ شوي کرکيچ په خپله حل کړي. دکوزيروف له دغه منافقانه عمل څخه معلومه شوه چي دده سفرپه بواځي ځانگړيو گټولاسته راوستوباندي شروع شوي ؤ نه داچي له ده سره اويادروسيي له حکومت سره دتاجکستان اوافغانستان دښوروروابطودټينگيدو غم اودردو بلکي هغي اصلاً غوښتل چي دتاجکستان دمسئلي په اروند دمنافقانه سياست لرلوترسيوري لاندي دباايمانه مجاهدينوڅخه خپل هغه جنايت کاره اومتجاوزروسي بنديان خوشي کړي چي باتورومجاهدينودجنگ په ډگرکي نيولي و اودروسي بنديخانوڅخه دخپلو مسلمانو اومجاهدوورونودخوشي کيدوتروخته پوري ئي له ځان سره ساتلي دي .

دافغان مجاهدولس دروسانوپه چلوټوښه بلدشوي، ان شاء الله زموږدروسانوله لاسه سوځيدلي، ځوريدلي اوله هرڅه نه محروم ولس اوحقيقي مجاهد مشران به دروسانو په چلوټودوکه ونه خوري، ترڅودخپل مظلوم هيوادزرگونوخلکوپه روسي جيلونوکي اوپه زرگونو نورونامعلوموکسانوباندي دجبل دروازي ماتي نشي اويابي پته ونه لگيږي ، روسي بنديان به خوشي نکړي . موږ داډه يوچي دافغانستان داسلامي دولت محترم صدراعظم به پدي برخه کي پاخه اوسنجول شوي گامونه پورته کړي اودپلار - ورور- زوي او... ورکوياتيکسانوته به په خپله ټاکلي بريالي تگلاري سره مطمئن داډورپه برخه کړي .

## دبوسنيا په هکله د...

دهغوځوامسلمانانو ته متوجه ؤ هغه ته يي پام نه ؤ بله اشتباه يي داوکړه چي په لومړيو کي يي دانه غوښتل چي له اسلامي نړي نه دمرستي غوښتنه وکړي . دي مسلمان ډوله کمونستانوصربيانوته ددي اجازه ورکړه چي مخکي له دي چي په نژادي تطهيرلاس پوري کړي په بوسنياکي دوسلوتولي زيرمي خالي کړي ، حتي په ډيروسختوشرايطوکي ، کله چي بوسنيايي پوځ په دي وتوانيده چي دمرکزي بوسنيا زياتي سيمي ونيسي اودجگړي مسيرته تغييرورکړي، دفرانسي، برتانيي اوامريکاپه غوښتنه يي دبوسنيايانو دوراندي تگ دټکني کولو په خاطردبوه لنډاورپند امروکړ. حتي اوس هم د اکثره شپانوله بريادېدواودشپږسوو زروڅخه دزياتوخلکوله مړيني وروسته دبوسنيا مشران دامريکا اواروپاڅخه دعاطفي په تمه دي .

دتاسف ځاي دادي چي څيني مسلمان اوعربي هيوادونه هم دلويديځوالوپه لوموکي نښتي اودبوسنيا په اړه دبي تفاوتي په حال کي دي، دترکيي بي شرمواوغربي شوومشرانوسره له دي چي ويني يي سره شريکي دي خپل بوسنيايي ورونه اوخويندي يي بواځي پريښي دي . حسني مبارك دامريکايي اداري دفاکس دماشين دآپريټردنده ترسره کوي چي په ظاهراً به مصرواکمني کوي. نوموړي خپل پوځ ته امرکړي چي دهغومظاهره چيانوپرضدچي دبوسنياملاتړکوي ډزي وکړي .

برتانيي اوفرانسي دامريکاپه توافق داتصميم نيولي چي په سيمه کي غيراروپايي کلتوراونژادونو نه بايد له پامه وغورځول شي اودي هدف ته درسيدولپاره دبوسنياتجزيه ډيره مناسبه ده اودلومړي گام په توگه يي دمسلمانانو په روحي شکنجي پيل کړي. پدي شکنجوکي ددري کلني (سامبرا) نومي نجلي په عزت تيري هم شامل دي چي دگاردين په ورځپاڼي کي خپورشوي. مگراوس دبوسنياپه اړه داډول رپوټونه په بشپړه توگه سانسورکيږي. په دي کي شك نشته چي لويديځ ميانځيگران وانس، اوين او ستولتنبرگ به دبوسنياتجزيي دمختلفوويني زيښونکوپلانونوپه طرحه کولو سره دنوبل په گټلوکي بريالي کړي.

# دبوسنيا په هکله دلويځ دوه مخي دريځ

ترجمه: جمال عبدالناصر «عزيزي»

هريو، که مسلمان وي که غيرمسلمان خوچي ديشردوستي لږاحساس هم ولري بايد دبوسنياپه هکله وژاړي، داځکه چي دبوسنيا دخلکوعامه وژنه دنړي داوسني تاريخ ترټولو سترجنايت دي چي واقعاً ساري نه لري اوبي ساري له دي امله دي چي داوحشت هره ورځ نوي بڼه خانته غوره کوي اودولتونه، نړيوالي اداري اوټولنيزي رسني کاملاً پري خبردي .

دشپيته زروځخه دزياتوښځو، ماشومانوپه عزت لوبي شوي چي له دوي ځخه دځينوعمرحتي له دري کلوڅخه زيات نه و. دوي په هغوکمپونوکي ساتل کيږي چي خاص دهمدي هدف لپاره جوړشوي دي اودعيسوي نسل دزياتيدولپاره بي په کراتوپه دله ايزه توگه په عزت تيري شوي. ميندي دلوڼواولوني دميندوپه حضورکي بي عزته شوي چي اکثروپيغلو دموريلار، وروراوڼوروخپلوانوپه حضورکي دبي عزته کيدوله امله خپل ژوندته خاتمه ورکړي .

دپاملرني وړاوځوروونکي لومړني واقعيت هغه مرستي دي چي صربي سري وژونکوسره يوشميرعربي هيوادونودتيلو دورکولو په بڼه کړي دي. دوهم داچي دبوسنيايي ښځواوماشومانو پرضددصربيانودجناياتودپټولو لپاره داروپااوامريکادپروپاگندماشين پوله پل سره همکاري ده .

دوسلوبنديزچي په دي سيمه باندي تحميل شوي دابواځي دبوسنيا پرضددتجاوزدتشديد يوه وسيله ده، ځکه له کومه وخته چي داپنديزپه کاراچول شوي ديونان، روسيي، جرمني او يوشميرنوروهيوادونوځوادصربيانواو کرواتانوسره دمرستي له امله هغه نه مراعاتيږي. برتانيه او امريکادصربيانوپه گټه دخپلوتبليغاتودتنظيمولوپه اړه يوبل سره همکاري کوي، له دي سره سره چي دبوسنيادصربيانومشر" رادووان کرادزيك" حتي دامريکاله خوادجنگي جنايتکارپه توگه پيژندل شوي مگردبرتانيي له صدراعظم جان ميجرځخه دهغه دمرستوله امله مننه ځرگندوي. لويديځي ټولنيزي رسني په ډيري لږاستثناسره په دي هځه کي دي چي په بوسنياکي دوژني، په عزت باندي دتيري، نژادي تطهيراوديته ورته دنوروجناياتواندازه دنړيوالوله پام ځخه پټه وساتي په کراتوکراتو لويديځورسنيوپه دي ټينگارکړيږي هره خوادغيرپوځي خلکوپه وژلوکي ملوثه اودواړه خواوي، صربي سري وژونکي اودهغوي بوسنيايي قربانيان " دجنگ دعواملو" په توگه توصيف کړي ، اوپه دي توگه دصربيانواوکرواتانوپواسطه دملکي خلکودوژلواو نژادي تطهيرځخه دخلکوپام اړول غواړي. او نړيوالوادارو دبوسنيايي مسلمانانو پربشري حقوقو په هرډول سيستماتيك تيري سترگي پټي کړي دي . اوترډي وروستيوپوري چي دبوسنياپرمسلمانانوچي کوم ځمکني زيانونه تحميل شوي داپه حقيقت کي پردي تاکيدکوي صربيانوچي دمسلمانوبوسنيايانودځمکودغصبولو په اړه په کومي ډلوژني اوهتك ناموس لاس پوري کوي دادملگروملتواونړيوالو ټولنودومخي نه نشت کوي. اودپور تنيوواقعونوله امله صربيان دجنگي جنايتونودمحکمي له دايريدوسره خپل مخالفت ځرگندوي

دبوسنيادجمهوررئيس دمرستيال له قوله دبوسنياودونه ځلويښت په سلوکي په اصطلاح ميکس شوي ودونه دي. چي دصربيانوځواجبراً پرخلکوتحميل شوي. دصربياجمهور رئيس سلوبودن ميلوسويك دلويديځورسنيوله ملاتړځخه په پوره توگه برخمن دي چي علت بي داسلام په مقابل کي دعيسويت ځخه دصربيانودفاع کول دي. په دي وروستيوکي دبرتانيي نژادپال تلويزيون هغه دهشت اوخوف خپور کړ چي په پاکستان کي بي داروپايي بوسنيايانو دهجرت دژوندشکارندوبي کوله چي هدف بي دهجرت ځنډ دبوسنيايي مسلمانانو کرکماړول وو .

دبرتانيي ديوي مارکسيستي جريدي مسئول ،يوه کيڼ لاسي اونيزه اويرسيره پرهغويوشمير نوري ادبي ټولني ددي هيله من دي چي دپخواني سري جگړي په بڼه دي دغربي تمدن ددفاع په اړه ددريمي نړي په ځانگړي توگه داسلام پرضد په يوه تبليغاتي کمپاين لاس پوري کړي .

